مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړونکی: رڼاګل اریوبزی
۲۰۲۲/۰۹/۱۴

# د مو شنګ په دانه لماسته شهزادګی

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

یو وخت یوه شهزاده غوښتل چي د یوې شهزادګۍ سره واده وکړي. باید هغه په ربښتیا شهزادګۍ وي. په دي نیت له کوره ووت او په ټوله نړۍ وګرځید، تر څو چي داسي شهزادګۍ پیداکړي، خو نه پیدا کیده. شهزادګی خو ډیري وې، خو هغسي چي ده غوښته نه پیدا کیده. په هره یوه کي یي دغه یا هغه نیمګړتیا لیده اوهیڅ یوه هم ورته سمه شهزادګی نه ښکاریده.په خپګان او ناهیلی بیرت کورته را وګرځیده، ځکه چي ده یوه ربښتیني شهزادګی غوښتخ، خو ویې نه مینده. یو ما ښام اسمان له تورو ډاروونکو وریځو ډک شو، غوریدا او بریښنا سر واخیست او دنا وې په شان باران اوریده، یو ډاروونکۍ حالت و. په دي وخت کي د ښار دروازه وټکول شوه، بوډا پاچا ور روان شو، ترڅو دروازه خلاسه کړي. که ګوري یو شهزادګی ده چي دباندې د دروازې په وړاندې ولاړه ده. په دې باران او په دې خرابه هوا کي په ډیر بد حالت لیدل کیده. اوبه یي دسر له ویښتو په جامو بهید لې ، له جامو بیا بوټونو ته ور ننوتلې او له پوندو یي بیرته راوتلې. دې وویل چي دا په ربښتی شهزادګی ده. زړې ملکي د ځان سره و ویل چي دا به اوس مالومه کړو. دې ته یي څه ونه ویل، دخوب کوټي ته ننوتل او د بسترې په ځای یي دموشنګ یوه دانه کیښوده. بیا یي په هغې شل توشکونه یو په بل باندې واچول او په هغوی یي بیا دالوتونکو دبنکو ډیر پاسته شل نور توشکونه هم واچول. دا دشهزادګی دخوب بستره شوه او ټوله شپه پکي ویده وه. په سهار ترې وپوښتل شو چي خوب یي څنګه و. هغې ورته وویل چي:« خوب مي ډیر خراب و، ټوله شپه مي ستر؛ه پټه نه شوه، خدای خبر دی چي زما په بسترې کي څه شی و، په یوه کلک شي پرته وم، ټول بدن مي سور شین دی، به بد حال یم.»

أه دي ښکاري چي هغه په ربښتیا یوه شهزادګی وه، ځکه چیډشلو توشکونو او دالوتونک د ښِک دشلو نورو توشکونو لاندې یي هم دموشنګو دانه احساس کړه. بې له شهزادګۍ هیڅوک هم دومره حساس اوناځک کیدای نه شي.

شهزاده له هغې سره واده وکړ، ځکه یوه شو چي ربښتني شهزادګی یي بیامونده او دموشنګ دانه یي دهنروونو په خزانه کي کیښوده، کیدای شي دچي هلته یي و وینو، خو په دې شرط، که چا غلا کړي نه وي.

ګوره، دا یوه ربښتیني کیسه وه.

Hans Christian Andersen Quelle: projekt.gutenberg.de



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ